AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

واحد فقیري ۲۰۱۸/۰۹/۰۹

# آیا طالبان د سولې لپاره چمتو دي؟

ښاغلی جان والش د متحده ایالاتو د بین المللي روابطو په معتبره مجله (فارن افېرز) کې د سپتمبر پر ۷ مه لیکي شپږ میاشتې کېږي چې په افغانستان کې د سولې هنګامه توده ده. اشرف غني په فبروري کې طالبانو ته بېله قید او شرطه د سولې د مذاکراتو وړاندیز وکړ. بیا وروسته، د اسلامي علماو غونډه تشکیله سوه. د سولې لپاره اوږده مارچونه روان دي. او د لومړي ځل لپاره د اختر په ورځو کې د جنګ ټولو خواوو یو موقتي اوربند مراعات کړ.

په مجموع کې، سوال دا دئ چې ایا طالبان سولې ته چمتو دي او کنه؟ طالبانو پدې څو میاشتو کې رنګارنګ سیګنالونه استولي دي. له یوې خوا ئې اوربند ومنی، او د امریکایانو سره ئې خبرې شروع کړې، خو له بلې خوا ئې د هغوی په قول د افغان نامشروع حکومت سره خبري رد کړې. زما د معلوماتو پر اساس، د طالبانو سیاسي مشران واقعا د سولې د مذاکراتو لپاره چمتو دي.

له ۲۰۰۱ راهیسې، طالبانو تل پر دوو خبرو باندې ټینګار کاوه: اول، هغوی د خارجي قواوو وتل غوښت، او دوهم هغوی یو اسلامي نظام غوښت. په کلونو کلونو، د طالبانو همدا دریځ کلک وو، خو پدې وروستیو وختونو کې د طالبانو اجنډا تکامل کړی دئ، او اوس د یو سیاسي سازش د کولو تصور ممکن ښکاري. طالب چارواکي اوس خارجي ډیپلوماتانو ته وایي چې هغوی د امریکایي عسکرو د وتلو لپاره صرف یو تقسیم اوقات غواړي. دا تقسیم اوقات کېدای سي چې انعطاف پذیره وي. ځیني طالب چارواکي حتی وایي هغوی «مشروط» خروج ته هم چمتو دي، مانا متحده ایالات کولای سي چې خپل عسکر د کلونو په جریان کې وباسي. ځیني طالب مشران وایي که چیرې خارجي قواووي ډېر ژر ووځي، کېدای چې افغانستان په یوې بلې «سوریې» باندې بدل سي. د طالبانو بله انګیزه ښایي دا وي چې غواړي په مستقبل کې د متحده ایالاتو او نورو هیوادونو سره جوړونکي روابط ولري.

دغه راز، طالبان اوس د افغانستان د اساسي قانون د زیاترو مادو او فقرو سره کوم خاص مخالفت نه لري. د مثال په توګه، نه د منظمو انتخاباتو سره او نه هم په اساسي قانون کې د ښځو د اکثرو ذکرو سویو حقوقو سره کوم مخالفت لري. خو طالبان به هیڅکله پدې راضي نه سي چې د همدې موجوده نظام سره یو ځای سي، ځکه هغوی په کلونو کلونو همدا نظام غیر مشروع او ګوډاګی بللی دئ. اکثره باخبره منابع وایي که چیرې طالبانو سوله وکړه، هغوی به په یوه نوي نظام کې برخه واخلي.

طالبان وایي چې د سیاسي مصالحې لپاره څو تدریجي قدمونه اخیستل کېدلای سي. اول، متحده ایالات باید د خپلو قواوو د خروج لپاره یو تقسیم اوقات اعلام کړي. دوهم، طالبان او د کابل حکومت به وروسته پر یو داسي «عبوري او سرپرست حکومت» باندې خبرې وکړي چې د بې طرفه تیکنوکراتان لخوا به اداره کېږي، او یو معین وخت به لري. همدا موقتي حکومت به پر اساسي قانون باندې تجدید نظر وکړي، د افغان په امنیتي قواوو کې به جامع اصلاحات راولي، بیا به د یوه دایمي حکومت لپاره زمینه سازي وکړي چې دا کار به په اغلب ګومان د انتخاباتو له لارې وسي. د ځینو باخبره خلګو سره چې ما خبرې کړې دي، هغوی وایي چې دا کارونه باید د جمهوري ریاست له انتخاباتو (۲۰۱۹) مخکې وسي. ځکه که چیرې یو جمهوررییس انتخاب سي، بیا به د هغه لپاره د قدرت د خوشې کولو محرک ډېر کم وي.

که چیرې د سولې په مذاکراتو کې طالبان د همدې پلان سره را مخته سي، کابل او واشنګټن به همدا پلان پرته له څه اصلاحاتو څخه و نه مني. واشنګټن به د خبرو په آغاز کې د خپلو قواوو د وتلو خبره و نه مني، او افغان جمهوررییس به یوه سرپرست حکومت ته د قدرت د خوشې کېدو سره مقاومت وکړي. بلخوا، پدې پلان کې د افغان د سیاسي ډلو موضوع نه ده واضح سوې. د قدرت د وېشلو څرنګوالی هم نه دئ مشخص سوی، د سلهاوو زره مسلح خلګو د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

برخليک په باب هم څه نه دئ پکښي ذکر سوي. خو بيا هم باتجربه ډيپلوماتان کولای سي چي لدې پلان څخه د سياسي روغي جوړي په برخه کي په کافي اندازه استفاده وکړي. واقعيت دا دئ چي د انتقالي دورې لپاره همدا تر ټولو ښه پلان دئ.

طالبان واقعا سوله غواړي، خو هغوی د دې کار لپاره ډېر نه لوېږي. هغوی نظامي عملياتو ته متعهد دي. د هغوی همدا موقف د جنګ په ډګرونو کي د هغوی اعتماد ښيي. طالب مشران باور لري چي هغوی کولای سي د متحده ايالاتو نظامي فشار ته سينه سپر کړي، او کله چي امريکا بالاخره ووځي، هغوی دا جنګ ګټي. خو هغوی پدې هم پوهېږي چي دا کار به داسي ژر و نه سي. ځکه د امريکا محدودي قواووي کولای سي چي طالبان د ډېر وخت لپاره له قدرته محروم وساتي. د امريکايي قواوو تر وتلو وروسته به د قدرت نيول ورته خونړي وي. د همدې او نورو دلايل په خاطر طالب مشران چمتو دي چي يو سوله ايز حل ته غاړه کښېږدي.

ځيني نقادان وايي چي طالبان صرف غواړي له واشنګټنه زيات امتيازات ترلاسه کړي. ما خپله د امريکا په خارجه وزارت کي کار کړی دئ، او د طالبانو همدا چلونه مي تجربه کړي دي. خو دا يوازي د طالب چارواکو مشکل نه دئ، افغان او امريکايي چارواکي هم په خپلو مينځو کي سخت وېشلي او ټکه ټکه دي، او پدې نه پوهېږي چي څرنګه د سولي پروسه مخته بوزي. هغوی تر اوسه پوري پدې نه دي توانېدلي چي د طالبانو دوو مهمو او بنيادي اعتراضونو ته معقول جواب ووايي.

هغه خلک چي د طالبانو د سولي چمتو والی تر سوال لاندي کوي، هغوی د طالبانو تشدد ته اشاره کوي. فقط پدې تېرو څو هفتو کي، طالبانو د غزني ښار ونيو. په راتلونکو مياشتو کي به نور ښارونه هم د طالبانو د تهديد سره مخامخ سي، او د طالبانو کوچينی حملې به په ګرده هيواد کي دوام ولري. خو په جنګي شرايطو کي مدام خبري کول او جنګ کول موازي حرکت سره کوي.

خو اصلي تراژدي دا ده چي په افغانستان کي پدې څو لسيزو کي يو خونړی نظامي بن بست دوام لري. د جنګ هر اړخ د سولي غوښتونکی دئ، خو لدې څخه ډېرېږي چي په مذاکراتو کي به زيات تاوان وکړي. د ښارونو بايلل، د ښارونو بېرته نيول، زيات عسکر استول، عسکر راکمول، او جنګ تشديدول دا ټول انساني تلفات د ځان سره لري، خو د روان نظامي بن بست په ماتولو کي هيڅ مثبت نقش نه لري. مګر حقيقت دا دئ چي په ۲۰۱۸ کی په سوله کي سرمايه ګذاري کول زيات موجه دلايل لري. د جون د مياشتي د اوربند محبوبيت دا وښوده چي افغانان به د سولي د پروسې کلک ملاتړ وکړي. دمګړی دا لا نه ده څرګنده چي طالبان به د سولي وړانديز ومني او کنه، خو د داسي يو متهور وړانديز لپاره تر نن ورځي بل هيڅ وخت مناسب وخت نه وو.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ